

# د دوکتور نجیب اله په ویر کې د پوهاند زیار شعرونه:

# شهید

کله چې لمر شهید شو ،

شول د سپوږمۍ نمري تور،

یو تور تیاره پړونی

پرتول جهان شو راخپور،

د شنه اسمان پر کلي

د رڼو ستورو پر کور!

# د زړونو واکمن

د زړو پر ملک یې، وار چلاوه چې،

هغه واکمن چا ، له تخت راکښېست...

چې یې غمي ول، د هسک برم ستوري،

چا یې له سره، آخول راپربست؟

# له امانه تر نجیبه

د امیر امان الله

او ډاکتر نجیب الله

له ګډو اړخونو

یو دادی چې

دواړه په یوه زنګوهلي توره

له منځه ولاړل...

او ورپسې

ورته ((سقاوی)) راغلې.

# بېګناه بندي

مه وژنئ

دغه بېګناه بندي !

مه وژنئ

دهغو ناسکه بدوردو  ورونو

په ګناه ،ګرم وغچ لېږد

دابېګناه بندي،

دغه دبېشمېرو ناسپړلو شنو خوبونو

دماناوو ،تعبيرو ويالند !

مه وژنئ

د خدای په پار،

دومره په پرغزاوبېلورۍ

دابېګناه بندي،

مه پاکوئ لاس مو پرې

د خپلو ګناهونو د سپينتان په پار !

مه وژنئ

په تش تور د ناکړې ګناه

دغه بېګناه بندي،

دغه د ښايست د صحيفو يوسف ....

ګوندې يوه ورځې شي امير د دغه مصر بيا ،

نه چې يې و نه شي کړای پوره دويني بيه

په اسان بيا !

مه وژنئ

دا دامن وسولې پيغمبر

هسې ښکېللی بېګناه بندي؛

ډېر يې په بند

زليخايي مينې پښېماني دي

ډېري يعقوبي سترګې

په تېږو دي ړندې له بيلتانه پسې ....

پرې ،

له توري ګورنډې د زندانه

رابهرشي او

ربښي ربښي کميس يې

رڼايي د رڼد وسترګو شي !

پرې ،

دغه ځلانده لمر

بيا وځلي د ډېروبرخليکونو

پر تورتمو بورجلو باندې !!؟

شاعر: پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود